عبدالباري جهاني ۲۰۱۹/۰۴/۱۰

# د امیر حبیب الله خان د دورې حالات:

## نا لوستي لیکونه

امیر حبیب الله خان په ۱۸۷۱ میلادي کال کې، په سمرقند کې وزیږېدی؛ او د ۱۹۰۱ د اکتوبر په میاشت کې، د خپل پلار امیرعبدالرحمن خان تر وفات وروسته، د هغه له وصیت سره سم، په کابل کې پر تخت کښېناست. امیر عبدالرحمن خان، د خپلو ټولو ښو او بدو صفاتو ترڅنګ، تر هر څه، په استبداد مشهور وو. د هغه د پاچهی په باره کې چې څوک فکر کوي نو تر هر څه مخکې یې د هغه د استبداد د توري دورې کیسې او خبرې ور په زړه کیږي. امیر حبیب الله خان، په استبداد او قساوت کې، که له پلار سره یو برابر نه وو، نو تر هغه ډېر کم هم نه وو. البته د امیر عبدالرحمن خان ټوله انرژي د یوه متمرکز نظام او یو موټي افغانستان جوړولو؛ او په دې لاره کې د خپلو ټولو رېښتونو او خیالي مخالفینو له منځه وړلو ته متوجه وه. په داسې حال کې چې حبیب الله خان ته یو نسبتاً جوړ سوی او کرار افغانستان په میراث پاته سوی وو؛ او د خپل پلار د پالیسیو د تعقیبولو تر څنګ یې عصري اصلاحاتو ته هم توجه کوله. عصري تعلیم او تربیې ته یې توجه وکړه. هندي او اروپایي استادان او انجنیران یې را وبلل. د اخبار چاپولو ته یې توجه وکړه، عصري او اروپایي لباس یې اغوست، او مېرمنو ته یې هم اروپایي لباس جوړاوه او مامورین یې په ارګ کې د بګړیو پر ځای د خولیو پر سرولو ته مجبورول.

امیر حبیب الله خان د خپل پلار په څېر مستبد سړی وو، مګر نه یې د هغه شخصي قوت او جذبه درلوده او نه یې په کورنۍ او له کورنۍ څخه دباندې د خپل پلار شرایط درلودل. په دې اړه زه، زیاتره، د انګرېزانو له هغو لیکونو څخه استفاده کوم چې تر اوسه پورې خپاره سوي نه دي او لا هم په آرشیفونو کې پراته دي. ښایي د افغانستان د تاریخ له شاګردانو او علاقه مندانو سره مرسته وکړي او یا لږترلږه د علاقې وړ یې وګرځي.

امیر عبدالرحمن خان ورور نه درلود او د خپل قدرت دوه دښمنان یې، د میوند فاتح سردارمحمدایوب خان او د افغاني ترکستان حاکم سردار محمداسحق خان، چې دواړه یې د کاکا زامن وه، یو په بل پسې، د تل لپاره، له صحنې وایستل. خو امیر حبیب الله خان څو ورونه درلودل؛ چې له هغې جملې څخه سردار نصرالله خان هم په قدرت کې ځان شریک باله او هم تر مرګه د امیر حبیب الله خان له نظر او عمل سره مخالف پاته سو. عبدالرحمن خان خپلو زامنو ته اداري چاري ورسپارلي وې، مګر د اطاعت په برخه کې یې د غلامانو په څېر سلوک ورسره کاوه. په داسې حال کې چې د امیر حبیب الله زامنو، په تېره بیا سردار عنایت الله خان او سردار امان الله خان د خپل پلار له مخالفینو سره جرګې مرکې کولې. امیر عبدالرحمن خان مذهبي مشرانو او روحانیونو ته د سر پورته کولو مجال نه ورکاوه؛ مګر حبیب الله خان نه یوازې مذهبي مشرانو ته د مستقلوسیاسي فعالیتونو زمینه برابروله بلکه پخپله یې، یا په ریشتیا او یا په ریا، ارادت او اخلاص ورته ښود؛ او په دې توګه یې، په لوی لاس، د خپل قدرت او سلطنت په مقابل کې یوه زوروره جبهه منځته راوړه. د دې تر څنګ لا هم په آزادو قبایلي سیمو کې له جنګونواو هم په داخل کې له قبیلوي جنګونو او مخالفتونو سره مخامخ وو. او په وروستیو پنځو کلونو کې د لومړۍ نړیوالي جګړې له امله د لویو قدرتونو د دسیسو په منځ کې لا هم را ګیر سو. د امیر حبیب الله خان د وخت پر اصلاحاتو او پروګرامونو باندې هم زه په خپلو نورو مضامینو کې رڼېدلی او هم نورو لیکوالانو کافي توجه ورته کړې ده. دلته موږ له موضوع څخه لیرې نه ځو او تقریبا یوازې هغو لیکونو او رپوټونو ته توجه کوو چې د دې دورې د حالاتو په معرفي کولو کې مرسته راسره کوي. دلته به د حبیب الله خان او د هغه د پلار امیر عبدالرحمن خان د دورو د مقایسه کولو لپاره دوه درې مثالونه راوړو او بیا به یوازې د حبیب الله خان دورې ته ولاړ سو.

د حبیب الله خان په دوره کې به، کله کله یا ډېر کله، د هغه ورور نصرالله خان په خپل کور کې دربارونه جوړول او کله کله به امیر هیڅ خبر هم نه وو. مګر د امیر عبدالرحمن خان دوره داسې نه وه. د امیر له اجازې پرته، د هغه په کورنۍ کې هیچا د سیاست او حکومتي چارو په باب ښه او بد نه سو ویلای. مثلاً د کندهار نیوز لیترز د اووم ټوک په ۱۸۰م مخ کې، د ۱۸۹۶ کال د آګسټ د پنځه لسمي نېټې یو رپوټ را اخلو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«د شنبي په ماښام، سردار حبيب الله خان ځلوښتو محمدزيو ته ماښامنۍ مېلمستيا کړې وه او د ډوډۍ له خوړلو وروسته يې پر مختلفو موضوعاتو باندي بحثونه وکړل. امير ته د دې موضوع په باب رپوټ رسېدلی وو. هغه خپل زوی سمدستي را وباله . شاآغاسي هغه پر پښو ورته راووست، او دا د سهار دوي بجې وې. کله چې يې هغه په داسي حال کي چې لاسونه يې تر شاتړلي ول، د امير مخي ته ودراوه نو امير ورته وويل چې اې نمک حرامه ته اوس غواړې چې پاچهي ونيسې. ته دومره خپل سرى سوى يې چې په خپل کورکي مېلمستياوي جوړوې او غواړې له امير عبدالرحمن څخه پاچهي تخت لاندي کړې؟ سردار چوپ ولاړ وو، رېږدېدی او ژړل يې. امير، د سردار له ښکنځلو وروسته، امر وکړ چې بندي يې کړي، خو په دې وخت کي سردار پر مځکه پرېووت. قومندان نعيم خان او شاغاسي هغه د امير له حضور څخه ليري کړ او د باغ بالا په قصر کي يې په يوه کوټه کي دوه ساعته بندي کړ. د امير قهر، د ډوډۍ تر خوړلو وروسته، يو څه کرار سو او پوښتنه يې وکړه چې سردار يې بندي کړی دی کنه؟ نعيم خان ورته وويل چې شپه يې په باغ بالا کي بندي کړی وو او نن سهار به يې بندي خاني ته ولېږي. امير حکم وکړ چې سردار بيرته ورته راولي. کله چې يې سردار ورته راووست نو امير يو ځل بيا هغه وسکونډی او ورته وې ويل چې په اينده کي بايد په دغه راز مسايلو کي احتياط وکړې. سردار په سرو اوښکو کورته ولاړ او درې ورځې د سر د درد په پلمه له کوره راونه ووت. اوس، په منظمه توګه، خپل کارته ځي»

د امير عبدالرحمن خان له ليکنو، فرمانونو، ويناوو او عمل څخه، په ځرګنده ښکاري، چې هغه په قدرت کي هيچا ته د لږترلږه مداخلي اجازه نه ورکوله. هغه د هيواد ټولو اتباعو ته د رعيت په سترګه کتل او له خلکو څخه يې يوازي د اطاعت انتظار درلود؛ او چې په هيواد کي يې څه ښېګني موجودي او يا د ده په نظر ښېګني ورتلې هغه يې يوازي د خپل شخصي کمال او عقل محصول بللې. بيا هم د هغه کتاب په ۲۰۱ م مخ کي د ۱۹۹۶ يم کال د اکتوبر د اووه لسمي نېټي يو رپوټ را اخلو.

«پرون امير په دربار کي، د خپل کاکا سردار محمديوسف خان په مخ کي وويل چې د خدای شکر دی چې نن سبا د هغو شته منيو، مقام او پوځونو په زور چې زما په برخه دی، زما د هيواد خلک ځومره ښې ورځې شپې تېروي. تاسي د مخکنيو پاچاهانو په دورو کي داسي شيان اورېدلي وه؟ ما ځومره زحمتونه وګالل؟ زه ټول کارونه پخپله کوم. نه وزير لرم او نه لوړ مقامات، چې زما سره په کار کي مرسته وکړي. تاسي بل داسي پاچا ليدلی دی؟ سردار ورته وويل چې ستا ټولي خبري سمي دي مګر خلک ډېر پرېشانه دی. دا چې ولي خپه دي علت يې نه معلومېږي. امير يو ځو ثانيي چوپ وو او وروسته يې وويل. زه د هغو غلاوو، فحاشيو، قتلونو او بدو عملونو ريښې کاږم چې د پخوانيو پاچاهانو په وختونو کي عام ول. دغه علت دی چې خلک خوابدي دي. سردار ومسل او وې ويل ښايي دغسي به وي. د سردار موسکا او جواب امير په غوسه کړ او په ډېر قار يې ورته وويل سمدستي له درباره ووزه او کنه زه به دروبنيم چې تا ولي ومسل او خلک ولي خوابدي دي. سردار هم سمدستي له درباره ووت او خپل کورته ولاړ»

په داسي حال کي، چې د حبيب الله خان په سلطنت کي د هغه ورورسردار نصرالله خان، د نايب السلطنته په حيث، که د هغه سم نيمايي قدرت نه درلود نو لږ ترلږه په قدرت کي ورسره شريک وو. هغه له امير سره د عقايدو ډېر زيات اختلاف درلود او امير نه سو کولای چې ټول کارونه پر خپل سر او د سردار له خوښي پرته په خپله اراده پر مخ بوزي.

امير عبدالرحمن خان د خپلو نيږدې او ليري ترېرونو، چې يو څه خطر يې ورڅخه احساساوه، تر وژلو، ځپلو او له ملکه د شړلو ترڅنګ د مذهبي مشرانو او روحانيونو نفوذ ته، چې خطر يې ورڅخه ليدی، ډېر سخت متوجه وو. هغه ټول مذهبي مشران او روحانيون په خپل کنټرول کي ساتل او د مُلايانو او د جوماتونو د امامانو څخه يې، چې کلونه يې له حکومت څخه مياشتنى او کلنى تنخواوي ترلاسه کړي وې، وغوښتل چې که تنخواوي او وظيفي غواړي نو بايد چې يو ځل ټاکلي ديني آزمويني تېري کړي. پر دې امر باندي که مُلايانو هر څه اعتراضونه وکړل امير د هيچا خبره ونه منله. په خپله سوانح عمري( تاج التواريخ) کي ليکي چې ملاعبدالرحيم يې، چې د ده د کفر فتوا يې صادره کړې وه، او په خرقه شريفه ننوتلی وو، د خرقي شريفي په بست کي دننه، په خپل لاس وواژه.

امير عبدالرحمن خان د مُلا مشک عالم په څېر مشهور ديني عالم، روحاني شخصيت او د انګرېزانو پر ضد د مشهور مجاهد د نفوذ پروا ونه کړه او د هغه پر ضد يې له پوځي قوې څخه کار واخيست. د هدې ملاصاحب ته يې، چې په لس ګونو زره مريدان يې درلودل او تر مرګه يې د انګرېزانو پر ضد له جهاد څخه لاس وانه خيست، د آزاد فعاليت اجازه نه ورکوله او حتى مځکه يې داسي پرتنګه کړې وه چې هغه د انګرېزانو او د امير د مخبرانو د لاسه دوې شپې په يوه ځای کي نه سوای تېرولای. مګر حبيب الله خان حضرتانو او اخوندزاده ګانو ته د وسله والو مريدانو د ساتلو او د آزادو قبايلو له مجاهدينو سره د مالي او پوځي ملاتړ، چې وروسته به ورباندي وړ.غبرږو، اجازه ورکړې وه.

د امير حبيب الله خان په زمانه کي هم پيران او هم مُلايان، تر يوى اندازې پورې، د مرکزي حکومت له کنټروله وتلي ول او کله کله به يې د امير پر ضد د عام تبليغ کولو جرأت کاوه. په کندهار کي د برتانيي رپوټ ليکونکی د کندهار نيوز ليټرز په لسم ټوک کي، د ۱۹۰۳ کال د اکتوبر پر اتمه ليکي«د ارغنداو د سرده د کلي اوسېدونکي ملا عبدالرووف د جمعې د ورځي په خطبه کي وويل چې ټول هغه مسلمانان چې له انګرېزانو څخه پيسې اخلي کافران دي. په مجلس کي ځينو حاضرو طالبانو او قاضي امرالله له مُلا څخه پوښتنه وکړه چې د افغانستان امير خو هم د برتانيي له حکومت


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

څخه پیسي ترلاسه کوي. هغه هم په دې کتار کي راځي کنه. مُلا وويل چي هغه هم کافر دی. والي ته اطلاع ورسېده. مُلا يي بندي کړ، امير ته يې رپوټ ورکړ او د هغه امر ته انتظار باسي»

د همدغه کتاب د اووم ټوک په ۵۱۵ لمبر رپوټ کي د امير عبدالرحمن خان د عسکري خدمت د هشت نفري سستم په باره کي يو ځای راغلي دي«امير د کوهدامن ټول ملکان، چي تقريبا دري سوه تنه کېدل، را وبلل او له هغوی څخه يې وغوښتل چي له خپلو کليو څخه پر هرو اتو تنو باندي يو سړی د عسکري خدمت لپاره حاضر کړي او هيڅ معطلي ونه کړي. له دريو سوو تنو ملکانو څخه دوو تنو يې وويل چي د کوهدامن خلک ډېر غريبان دي او د عسکري خدمت لپاره پيسي نه سي برابرولای. امير دا خبره د هغوی نافرماني وبلله او دواړه يې بنديان کړل. امير له نورو ملکانو څخه پوښتنه وکړه چي که څوک کوم عذر لري ودي وايي. ټولو وويل چي دوی هيڅ عذر نه لري او د عسکري خدمت لپاره به سړي برابر کړي.دوی ټول رخصت سول»

خو له دې پيښي څخه يوولس کاله وروسته، د همدغه عسکري خدمت لپاره، د کندهار او شاخوا سيمو خلک د امير امر نه مني. د همدغه کتاب د لسم ټوک په ۱۷۴ پاڼه کي د ۱۹۰۵ کال د اګست پر اتمه رپوټ کي راغلي دي « د کندهار والي، د امير له حکم سره سم، د آګسټ پر لومړی نېټه د کندهار مشران ور وبلل او ږغ يې ورباندي وکړ چي خپل سړي د عسکري خدمت لپاره برابر کړي. ټولو په يوه خوله د والي غوښتنه رد کړه او والي ځيني مشران بنديان کړل. دوکانونه وتړل سول او څو تنه تاجران په خرقه شريفه ننوتل. محمدزيو او بارکزيو موافقه کړې ده چي خپل زامن د امير د غلام بچه ګانو په حيث وليږي. د دهلي، ګرشک او پشت رود ملکانو هم د کندهار له نورو مشرانو سره خپل ږغ يو کړی دی؛ خو امير ته يې عريضه لېږلي او په هغې کي يې ليکلي دي چي که يې غزا ته ليږي نو دوی خدمت ته حاضر دي»

**د وسلو قاچاق:**

د امير حبيب الله خان په زمانه کي د وسلو قاچاق دونه زور اخيستی وو، چي حتی په کابل کي يې کاروانونه تېرېدل او مقاماتو هم څه نه ورته ويل. د خلکو لاسونو ته، په دومره زيات شمېر، د رنګارنګ وسلو لوېدلو د امير قدرت او سلطې ته ځکه تاوان رساوه چي هم په آزادو قبايلي سيمو کي د انګرېزانو پر ضد پر له پسې بنوربښونه روان ول او هم په داخل کي، د هيواد په تقريبا ټولو اطرافي علاقو کي ناکراری رواني وې. دا هغه پديده وه چي د امير عبدالرحمن خان په زمانه کي يې چنداني تصور نه سو کېدلای. د همدغه کتاب د اووم ټوک په ۱۸۱م مخ کي د آګسټ د مياشتي د يوولسمي په رپوټ کي راغلي دي«د کندهار يوه خان فضل الله امير عبدالرحمن خان ته شل روسي طلاکار توپکونه په سوغات کي راوړل. کله چي امير پوښتنه ورڅخه وکړه چي دا توپکونه يې څرنګه لاسته ورغلي دي، هغه په جواب کي ورته وويل چي په پيسو يې اخيستي دي. امير پر هغه سړي باندي بد ګومانه سو او داسي ګومان يې وکړ چي هغه به د روسانو سره اړيکي لري. هغه يې رخصت کړ او ورته وې ويل چي په چنداول کي به اوسېږي. او کله چي هغه له درباره ووت نو امير کوتوال ته امر وکړ چي پټ يې بندي کړي. کوتوال هغه سړی، د امير د امر سره سم، په هغه شپه بندي کړ»

امير عبدالرحمن هيڅا ته د توپک او توپنچو ساتلو اجازه نه ورکوله او د هغه په زمانه کي د وسلو قاچاق، د ستونزي په حيث، مطرح نه وو. د وسلو قاچاق د امير حبيب الله خان په زمانه کي ځکه يو ډول زور واخيست چي د افغانستان په هره سيمه، آزادو پښتني قبايلي سيمو او د آمو د سيند پر پوري غاړه يې ډېر زيات خريداران درلودل. دا وسلي د بلجيم د انتورپ Antwerp له ښار څخه په بېړيو کي د عُمان بندر ته وړلي کېدلي او د عمان له بندر څخه د فارس د خليج له لاري، په دښتونو او غرنيو سيمو کي، د منظمو او ډېرو زياتو وسله والو سړيو په بدرګه، افغانستان، آزادو قبايلو، ترکمنستان اوزبکستان او نورو سيمو ته ورتللي. عُمان پخپله دېرش زره ميله مربع ساحه وه او د دونه پراخي مستقلي سيمي، چي په خپلو چارو کي يې د چا مداخلي ته هم اجازه نه ورکوله، کنټرول اسانه کار نه وو. د عُمان له بندر څخه تر افغانستان پوري پر بېلو بېلو لارو باندي د لويو قومي او قبايلي مشرانو مستحکمي قلاوي وې چي په هره يوه کي يې وسله وال خطرناک سړي اوسېدل، او د زياتو پيسو په بدل کي يې د وسلو د قاچاقبرانو ساتنه کوله. که څه هم چي د دې وسلو يوه برخه هم انګرېزانو او د ايران مقاماتو را ګرځوله خو ډېره زياته برخه يې بيا هم افغانستان ته داخلېدله او کله چي به دا وسلي د افغانستان خاوري ته ننوتلي بيا نو د قاچاقبرانو او د وسلو د کاروباريانو لپاره هري سيمي ته رسول اسانه کار وو. که څه هم چي د وسلو دې کاروانونو د افغانستان وضع بې ثباته کوله خو تر ټولو لويه ستونزه يې برټانيي ته پېښه کړې وه. د برټانوي هند مقامات په دې حقيقت پوهېدل چي، په بشپړه توګه، د وسلو د قاچاقبرانو او کاروانونو مخه نه سي نيولای نو کوښښ يې کاوه چي تر څو وس يې رسيږي په هغه اندازه يې کنټرول کړي. انګرېزانو ته يوه لا بله ستونزه د پښتنو شته من کېدلو پېښه کړې وه چي د هند په خاوره کي يې د تجارت او کاروبار له لاري بنې ډېري پيسي پيدا کړي وې او پخپله يې د وسلو کارو بار ته لاس اچولی وو. نور دا هغه پښتانه نه وه چي د ډېرو لږو پيسو په بدل کي به يې ځانونه لويو خطرونو ته ورکول او يا به يې يوازي د انګرېزانو له چونيو څخه په تښتول سويو وسلو له هغوی سره جنګونه کول. اوس يې کله کله، د وسلو د دغه کاروبار


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

او قاچاق له لارې، داسې عصري ټوپکونه او مهمات ترلاسه کول چې له انګرېزي وسلو سره به يې بشپړه سيالي کوله. نيويل ص ۳۶۶-۶۷

د دې وسلو يو لوی مرکز پخپله د کابل ښار وو او د کابل د حکومت تر سترګو لاندې په کاروانسرايونو کې وسلې خرڅېدلې او تبادله کېدلې. په کابل کې د انګرېزانو د حکومت استازی، چې د دې مضمون تقريبا ټول رپوټونه د هغه په حواله دي، فقير سيد افتخارالدين د ۱۹۰۸ م کال د سپټمبر پر شپاړسمه په خپل رپوټ کې ليکي چې د اپرېديو او د تېرا د اوسېدونکو يوه بله دوه سوه ځلوېښت کسيزه ډله کابل ته را ورسېده. د دوی ملکان نور خان، احمدعلي او يعقوب نوميږي. له دوی سره د نورالله په نوم يو ملا ملګری دی. له دغې ډلې سره درې سوه ټوپک او مهمات ورسره دي. ميرصاحب جان او ملګرو يې نور ټوپک هم واخيستل. د انګرېزانو استازی وروسته ليکي« حکومت د وسلو او مهماتو پر قاچاقبرانو باندې هيڅ ډول محدوديتونه نه وضع کوي. له دوی څخه نه د وسلو د واردولو او نه صادرولو په وخت کې ماليه اخيستله کيږي. د امير رعيت، د هغه له غوښتنې سره سم، ښه په وسلو سمبال دي. کله چې خلک، د وسلو او مهماتو په تجارت کې، د افغانستان د حکومت اسانتياوې ويني نو د افغانستان له هرې لورې او د سرحدي سيمو څخه د کابل خواته توجه کوي. د کابل په بازارونو کې دغه ګړی په زرهاوو ټوپک خرڅيږي او داسې ښکاري چې دوی غواړي د برټانيې د حکومت د تېري او يا د برټانيې پر حکومت باندې د يرغل په صورت کې کار ورڅخه واخلي. سړی دا هم ويلای سي چې بېل بېل قبايل له يوه بل سره دښمنۍ لري او غواړي چې د يوه بل پر ضد ځانونه په وسلو سمبال کړي. مګر اصلي هدف يې له انګرېزانو سره جګړه ده»

د انګرېزانو استازی د آګسټ د نهه ويشتمې په رپوټ کې ليکي چې عبدالله خان شلګري له مسقط څخه اته لس سوه ټوپک را بار کړي وه. برټانوی سمندري ګزمې نهه سوه ټوپک ورڅخه ونيول او باقي پاته نهه سوه يې کابل ته را ورسول.

د برټانيې همدغه استازی د همدغه کال د نومبر پر يوولسمه رپوټ ورکوي چې جلال خان شېر سوه ټوپک او دادشير دوه سوه ټوپک کابل ته د خرڅلاو لپاره راوړي دي. د وسلو دا شمېر به کله کله دونه زيات سو چې سړی نه پوهيږي د عُمان له بندر څخه تر کابل پورې، د انګرېزانو د پوځيانو او سمندري ګزمو له دومره زياتو خنډونو سره سره څرنګه تر کابل پورې رسېدلي دي. کله چې سړی د کابل تر بازارونو پورې د رسېدلو وسلو شمېر ته ګوري نو د دې خطرناک تجارت او قاچاق د اصلي حجم په باره کې سم اټکل کولای سي. د انګرېزانو استازی د ۱۹۰۸ کال د ډسمبر د شپاړسمې په رپوټ کې ليکي« دوه اوښه، چې ۱۶۰ ټوپک وربانديې بار وه، تېره هفته، د خرڅلاو دپاره را ورسېدل. مالکان يې وايي چې شپاړس په وسلو بار اوښان يې د غزني حاکم را ګرځولي دي. دوی وايی چې له هغه سره دعوه به ژر فيصله سي او وسلې به د پسرلي په موسم کې کابل ته ورسيږي» که پر هر اوښ باندې اتيا ټوپک بار وي نو په دې توګه د شپاړسو اوښانو بار ۱۲۸۰ ټوپک کيږي. او د استازي له خبرو او رپوټونو څخه ښکاري چې دا تجارت همداسې روان وو. د وسلو دې تجارت او قاچاق د دوهمې نړۍ والې جګړې تر پايه پورې دوام وکړ او د انګرېزي استعمار او په وروسته کې د پنجاب د واکمن حکومت پر ضد مشهور مجاهد او مبارز ايپي فقير يوه اندازه وسلې له دغې لارې تر لاسه کولې.

د انګرېزانو استازی د ۱۹۰۸م کال د اکتوبر د اوومې په رپوټ کې ليکي« اته تنه زخه خېل نن د وسلو د رانيولو په حال کې وليده سوه. له هغوی څخه د يوه نوم علاءالدين دی. د سپټمر پر نهه ويشتمه لوهاني سوداګرو پنځه سوه نور ټوپک، د خرڅلاو لپاره، بازار ته راوړل. د وسلو ځيني خرڅوونکي وايي چې دوی به اوس ديره اسمعيل خان ته ځي او هلته به څو مياشتې پاتيږي. له هغه ځايه به سکر ته ځي او هلته به شالونه پلوري. دوی به د اپرېل په مياشت کې کراچي ته ورسيږي او له هغه ځايه به بيرته خپل هغه ځای ته چې وسلې ورڅخه راوړي روانيږي. دوی وايي چې دا ځل يې ځکه ډېر تاوان وکړ چې د برټانيې حکومت ډيرې زياتې وسلې ورڅخه ونيولې»

په دې ترځ کې به کله کله عجيب او غريب عمليات کېدل. پښتانه به په ځانونو خبر نه ول او د انګرېزانو استازي به د ملګرو يا ترجمانانو په حيث ورسره روان سول. مخکې له هغه چې دوی په عملياتو پيل وکړي، د نقشو رپوټونه به يې د انګرېزانو پوځ ته رسيدلي ول. د انګرېزانو استازی په همدغه رپوټ کې ليکي« يو څوتنو د خيبر اوسېدونکو، چې زما يو دوست هم ورسره ملګری وو، له يوه ترکي انجنيير سره، چې د باروتو په جوړولو کې ماهر دی او پوهيږي چې بمب څرنګه جوړ کړي وکتل . دوی له هغه څخه وغوښتل چې د بمونو د جوړولو طريقه ورته وښيي او د موادو پيسې به يې ورته تاديه کړي. تر هغه وخته پورې چې د خيبر دغه اوسېدونکي په کابل کې ول، دوه درې ځله يې له ترکي انجنيير سره وکتل. که دوی د بمونو په جوړولو کې بريالي سي نو د دوی لومړی هدف به د ( سرجورج) روس کيپل يا جلالتمآب لارډ کيچنر وژل وي »

د امير حبيب الله خان او نصرالله خان اړيکې:

په هغه اندازه چې امير حبيب الله خان د هيواد د عصري کولو او عصري اصلاحاتو طرفدار وو په هغه اندازه يې ورور سردار نصرالله خان مذهبي سړی وو؛ د پيرانو او حضرتانو تر اغېزې لاندې وو او تقريبا يوازينی هدف يې له انګرېزانو سره جګړه کول او د سيمې څخه شړل ګرځولی وو. سردار نصرالله خان پوهېدی چې انګرېزان، په افغانستان کې تر بل هر چا، د امير حبيب الله خان ملاتړ کوي او چې تر څو له هغه سره د انګرېزانو ملاتړ ملګری



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ

وي د ده لپاره به د قدرت نیول ګران څه چي غیر ممکن وي. د سردار لپاره د قدرت د نیولو یوازیني لاره د انګریزانو پر ضد د جهاد اعلانول او د خپل قدرت لپاره د لاري هوارول وه. د ده په فکر، امیر حبیب الله خان کولای سوای چي قدرت ، د خپل پلار په څېر، یوازي په خپل لاس کي ونیسي؛ او بالاخره یې خپلو زامنو ته وسپاري. سردار نصرالله خان خپله چاره په اوبو کي لیده؛ ځکه یې تر مرګه له خپل ورور سره جوړه ونه کړه.
د انګریزانو استازی د ۱۹۰۸م کال د ډسمبر پر نهمه رپوټ کي لیکي« سردار عنایت الله خان د هغو وظایفو په سرته رسولو کي چي امیر تازه ورسپارلي دي خپل لیاقت ښیي. دی سخت کار کوي او له کار سره ډېره علاقه نیسي. ده ته د ټول افغانستان د ملکي او نظامي چارو اداره سپارله سوې ده. امیر حبیب الله خان امر کړی دی چي د سردار عنایت الله خان پر کور باندي بیرغ ودرول سي. سردار نصرالله خان یوازي خارجي چاري پرمخ بیایي او د هغه پر کور هم بیرغ رپیږي. د تیرو دوو میاشتو راهیسي، امیر او سردار نصرالله خان خپل وخت په سات تېري مصرفوي. امیر هغه له ځانه څخه نه جلا کوي؛ او د پخوا په خلاف یې زیاتره وختونه له ځان سره ساتي. په دې توګه سردار عنایت الله خان ته د دې فرصت ورکوي چي په دولتي چار کي نور هم خپل نفوذ زیات کړي »
د انګرېزانو استازی د همدې میاشتي پر شپاړسمه په خپل یوه بل رپوټ کي لیکي« سردار عنایت الله خان ته ورځ تر بلي د امیر توجه زیاتیږي. امیر پخوا هغه ته هیڅ وخت دونه قدر نه وو ورکړی چي په بګی کي یې له خپل څنګ سره کښېنولی وای. په تېره هفته کي دوه ځله لیده سوي دي چي هغه په بګی کي د خپل پلار له څنګه سره ناست وي. سردار عنایت الله خان، په ډېره هوښیاری سره، د خپلي میرې، علیاحضرتي توجه ور اړوي؛ او داسي ښکاري چي له هغه اړخه د ده پرمختګ ته کوم خطر متوجه نه دی »
له دې رپوټونو او نورو تفصیلاتو څخه په څرګنده معلومیږي چي سردار نصرالله خان په خپلو اندېښنو کي پر حقه وو او باید چي په یوه چاره پسي یې کتلي وای.
د انګریزانو استازی د ۱۹۰۸م کال د سپتمبر پر دوهمه په خپل رپوټ کي لیکي« د ورځپانو دا رپوټونه چي په کابل کي د یوه ښکاره بغاوت په باره کي خپاره سوي دي ټول بې اساسه دي. په اوس حالت کي سیاسي وضع دونه پېچلې ده چي سړی په یقین سره نه سي ویلای چي وروسته به څه پیښه سي.
کله چي زه، په عامو محفلونو کي، سردارنصرالله خان او امیر، یو ځای سره، وینم؛ نو دا چنداني نه سم منلای چي هغه سردار چي زه یې په سترګو وینم او هغه سردار چي زه یې په باره کي دونه زیات شیان اورم یو سړی دی. دی د امیر دونه اطاعت او درناوی کوي چي حد نه لري او پرته له دې چي له ځان سره دي لږغوندي سلا وکړي د هغه ټول اوامر مني او عملي کوي. امیر هم سردار ته ډېره توجه کوي او د هغه له توجه څخه ګرانښت او اعتماد څرګندیږي. مګر دا فقط، د خلکو د تېرایستلو لپاره، ظاهري کارونه دي. د کابل اکثریت خلک په دې عقیده دي چي امیر په باطن کي له سردار څخه بېریږي او د هغه د غوښتنو منلو ته مجبور دی؛ او سردار چي هم د امیر دغه ظاهري احترام او اطاعت کوي مطلب یې یوازي د اذهانو تېرایستل دي. په حقیقت کي دی خپل کار کوي او خپل ورور امیر ته وفاداري نه لري.
د قدرت او صلاحیت په برخه کي زه یوازي دونه ویلای سم چي تر څو امیر د هیواد پاچا وي نو د هر څه قدرت ورسره دی. سردار د هغه نایب دی او تر هغه رالاندي قدرت او صلاحیت لري. مګر د نایب د صلاحیت ترڅنګ یې د ملایانو چمونو ته ملا تړلې ده او په دې توګه یې ډېر زیات قدرت تر لاسه کړی دی. هغه د نورو مذهبونو په مقابل کي د نفرت او تعصب په ښودلو سره خلک د ځان طرفدار کړي دي. تر هغو چي دغه حالات وي نو ژر یا وروسته د یوه انفجار انتظار ایستل کېدلای سي. مګر خبري دونه خرابې نه دي چي چا ته دي په نیژدې راتلونکي کي د حالاتو د ډېرو خرابېدلو اندېښنه ورپیدا کړي؛ دا البته په دې شرط چي دا سي فوق العاده شی پېښ نه سي چي حالاتو ته آني تغییر ورکړي»
امیر حبیب الله خان پوهېدی چي هم د خپلو اصلاحاتو د پروګرام د عملي کولو، هم د تخت او تاج د ساتلو او هم د ژوندانه د عیش او عشرت او سات تېریو لپاره د انګرېزانو مرستي ته اړ دی او تر څنګ یې، په هماغه اندازه د پیرانو او مُلایانو ملاتړ ته ضرورت لري او که کله نا کله له هغوی سره سر ونه ښوروي هغوی کولای سي چي له تخته یې وپرزوي او یا لږترلږه ډیري ستونزي ورته پیدا کړي. خو د هغه که د انګرېزانو سره مخالفت په وس پوره نه وو نو له مُلایانو او پیرانو سره یې هم ډغري نه وهلې. امیر تر ډېره وخته پوري هم پر مېخ او هم پر نال وهلو پالیسي غوره کړې وه. کله چي به په آزادو قبایلو کي د جنګونو له زور اخیستلو سره په افغانستان کي د جهاد او غزا ناري پورته سوې نو دی به د حضرتانو او اخوندانو ملګری سو او کله چي به پښتنو په جنګونو کي ماتي وکړې او تلفات به یې ولیدل نو امیر به هم د جهاد څخه لاس واخیست او حتي پر ضد به یې ودرېدی.
د انګرېزانو استازی د ۱۹۰۸م کال د مې د یوویشتمي په رپوټ کي لیکي«سردار نصرالله خان، په دې وروستیو شپو ورځو کي، د تګاو یوه مُلا ته، چي په ملاصاحب مشهور دی، څلور زره روپۍ ورکړي دي چي له غازیانو سره مرسته وکړي. دا مُلا په تګاو کي ډېر نفوذ لري او امیر د کاله یوزر پنځه سوه روپۍ او څو خرواره غله ورکوي.
سردار نصرالله خان امیر ته پټه مشوره ورکړې وه چي په سر حد کي له غازیانو سره د مرستي لپاره یوه ټولی پیاده او یوه ټولی سپاره عسکر واستوي. امیر د سردار نصرالله خبره ونه منله مګر دونه یې ورته وویل چي که افغانان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

غواړي چي په جنګ کي برخه واخلي دی به يې راونه ګرځوي؛ مګر عسکر به ځکه د جنګ لپاره سرحد ته ونه لېږي چي له برټانيې سره يې تړون کړی دی چي نه به برټانيه د افغانستان د حکومت پر ضد جنګ پيل کوي او نه به د افغانستان حکومت د جنګ ابتکار اخلي. خو سردار د غازيانو سره پر مرستي باندي ډېر زيات ټينګار کوي او له هغوی سره د ډيرو پټو لارو مرستي کوي. په يوه کال کي، د سردار د ليدلو لپاره، ډيري زياتي قومي جرګې راغلي دي. سردار د هغوی ډېر درناوی کړی دی. سردار دغه راز له ډېرو زياتو ملايانو سره پرله پسې او پټي غونډې کړي دي»
د برټانيې استازی د ۱۹۰۸م کال د مې د اته لسمي په رپوټ کي ليکي« د ماسی صاحبزاده چي په مازون مشهور دی او ډېر زيات نفوذ او مريدان لري د مې پر دريمه کابل ته را ورسېدی. امير په هغه ورځ د توپکو په تمريناتو بوخت وو. کله چي امير ته د صاحبزاده د راتللو رپوټ ورکړه سو نو هغه په سبا په ارګ کي خبرو ته بلنه ورکړه. په خبرو کي سردار نصرالله خان او څو تنه نور درباريان حاضر ول. امير، د مې پر پنځمه، صاحبزاده ته شپاړس توپک او دوولس سوه روپۍ ورکړې او هغه هم سمدستي له دوولسو سوو غازيانو سره د پېښور د سرحد پر لور جنګ ته روان سو. د تګاو د سپه سالار ورور محمديار له امير څخه تر اجازې اخيستلو وروسته له څلورو سوو جنګياليو سره جنګ ته روان سو. د بتخاک يو مشهور مُلا، چي له امير څخه د کاله څو سوه روپۍاخلي، له شپږو سوو جنګياليو سره جنګ ته روان سو. هغه يو ليک امير او سردارنصرالله خان او بل يې خپل کورته لېږلی او په هغو کي يې ليکلي وه چي د شبقدر ښار يې نيولی او سوځولی دی او ډېر ژر به پېښور ونيسي. د دښمن په سل هاوو عسکر يې وژلي دي او خلکو ته چي دا رپوټونه رسيږي نو له خوشاليه په جامو کي نه ځاييږي.
د کوهستان خلکو هم د سرحد پر لور حرکت کړی دی. د کوهستان درې اخوندزاده ګان د مې پر دوهمه او دوه نور يې د مې پر پنځمه کابل ته راغلل. دوی له سردار نصرالله خان سره وکتل او هغه پرشا وټکول. دغه اخوندزاده ګان د سل هاوو جنګيايلو په ملتيا جنګ ته روان سوي دي.
کله چي يو مُلا يا نور کسان امير ته ورځي او له هغه سره په جهاد کي د برخي اخيستلو اجازه اخلي نو امير عموما ورته وايي چي زه چاته په جنګ کي د برخي اخيستلو هدايت نه کوي مګر څوک راګرځوم هم نه او هر څوک د خپلي خوښي اختيار لري. امير معمولا خپلي خبري په دې وينا سره پای ته رسوي چي ځی پر خدای مي سپارلي ياست.
ډېرو پوځيانو هم له امير څخه په جنګ کي د برخي اخيستلو غوښتنه کړې ده او امير ټولو ته دغه يو جواب ورکړی دی. مګر امير پوځيانو ته ويلي دي چي که په جنګ کي برخه اخلي نو په عسکري يونيفورم کي به نه ځي خو توپک ورسره اخيستلای سي.
په ډکه کي عسکري قومندان ته هدايت ورکړه سوی دی چي داسي آوازه ګډه کړي چي امير هغه ته امر کړی دی چي هيڅوک نه سي کولای له اجازې پرته په جنګ کي برخه واخلي. قومندان ته پټ ويل سوي دي چي هيڅوک په جنګ کي له برخی اخيستلو څخه راونه ګرځوي»
د انګرېزانو سره د جهاد کولو په مسله کي د امير دې شوق او تودوخي تر ډېره وخته دوام ونه کړ او هغه ډېر ژر د جهاد پر ضد داسي اقدامات پيل کړل چي بيا، تر ډېره وخته پوري، چا د انګرېزانو پر ضد د غزا او جهاد نوم اخيستلای نه سو. د انګرېزانو استازی، د خپلو ورځنيو ياداشتونو په سلسله کي، د ۱۹۰۸م کال د مې پر اته لسمه په خپل رپوټ کي ليکي«د مې له دوهمي څخه د مې تر شپږمې پوري، په ارګ کي د مشورتي شورا په غونډو کي ډګروالانو، قوماندانانو، جنرالانو، سردارانو او د تورن له رتبې پورته مخورينو او مهمو کسانو برخه درلوده. په دې غونډو کي اعتمادالدوله عبدالقدوس خان، مستوفی الممالک محمدحسين خان، ايشک اغاسي او نور مهم کسان شامل ول. (دا مهمه ده چي په رپوټ کي د سردار نصرالله خان نوم نه دی راغلی ج) د غونډې جريانات په مطلقه توګه محرم وه او هيڅ يوه خبره يې دباندي ونه وتله. امير امر کړی وو چي د غونډې يکي يوه خبره بايد دباندي ونه ايستل سي. د مې پر شپږمه د ماپښين پر څلور بجې چي غونډې پای ته ورسېدلې، د کابل مهمو کسانو ته اوامر صادر سول چي د ټولو سيمو د هغو کسانو ليستونه برابر کړي چي د انګرېزانو سره د غزا په نيت له ښاره وتلي دي. دغه راز ټولو هغو کسانو ته چي سرحد ته يې د تللو خيال درلود، امر سوی دی چي د امير په مخ کي حاضر کړل سي څو په توقيف کي وساتل سي. دغه راز رپوټ ورکړه سوی دی چي د دغی مشورتي شورا غونډې به د امير په غياب کي هم دوام کوي... له دې نېټې څخه وروسته هيڅوک د غزا په نيت، له ښاره نه دي وتلي... امير د موسيی د صاحبزاده، چي له اوو سوو تنو سره له کابل څخه وتلی او د جهاد لپاره يې سړي او پيسې جمع کولې، د نيولو حکم وکړ. رپوټ وايي چي صاحبزاده راوستل سوی دی؛ خو امير ته نه دی پېش سوی او په بنديخانه کی ناست دی »
د انګرېزانو د استازي د مې د ديرويشتمي له رپوټ څخه په څرګنده ښکاري چي امير د انګرېزانو پر ضد د جهاد او غزا په برخه کي خپل دريځ د مستوفی محمدحسين خان له هغه رپوټ څخه وروسته بدل کړ چي د مشورتي شورا په غونډو کي يې وړاندي کړی او ويلي يې وه «... برټانيې تر اوسه پوري د غازيانو له لاسه دونه تلفات نه دي ليدلي چي هغوی دي وارخطا کړي. د سرحد څخه راغلي رپوټونه فقط دونه وايي چي ډېر زيات شمير غازيان له جنګياليو سره يو ځای سوي او نور هم پر لاري دي. د بتخاک د ملا دا رپوټ چي وايي برټانيې ته ډېر درانه تلفات اوښتي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دي، بالکل دروغ ثابت سوي دي. د غازیانو مواد او منابع، حتی د عملیاتو په پیل کي، دونه لږ دي چي دوی ډوډی په یوه روپي نه پیدا کیږي. که د غازیانو شمېر نور هم زیات سي نو دا خبره یقیني ده چي دوی به له لوږي مړه سي. په مقابل کي د غازیانو دښمنان دونه قوت او منابع لري چي هیڅ وخت به له کمبود سره مخامخ نه سي؛ او کولای سي چي جنګ ته ځو کاله دوام ورکړي. امیر، د دې رپوټ په اورېدلو، ډېر خوشاله سو او له هغه سره یې خپل بشپړ توافق وښود. یوه ورځ وروسته پر دې رپوټ باندي بیا، د دووساعتونو لپاره، بحث وسو. مشورتي شورا، د رایو په اتفاق، د محمدحسین خان له رپوټ سره موافقه وکړه؛ او غونډې په هماغه ورځ پای ته ورسېدی»
په زړه پوري خبره دا ده چي د مشورتي شورا له پای ته رسېدلو او د، جهاد او غزا پر ضد، د امیر له دونه سختو او قاطع اوامرو سره سره هم ځینو عالي رتبه مامورینو سرغړونه کوله او له غازیانو سره یې مرستو ته دوام ورکاوه. سردار نصرالله خان، چي د خپل لوړ مقام او صلاحیت سره سره یې د مشورتي شورا په دونه مهمو غونډو کي برخه نه درلوده او یا برخه نه وه ورکړه سوې، تر پایه د غازیانو له ملاتړ څخه لاس وانه خیست. او د هغه یو طرفدار او ملګري ناظرمحمدصفرخان، چي امین اطلاعات یا د هغه وخت د استخباراتو رییس وو، له غازیانو سره پټي مرستي کولې. د انګرېزانو استازی په همدغه رپوټ کي وایي چي « ناظرمحمدصفرخان غازیانو ته دوه سوه توپکونه ورکړل. امیر خبر سو او ناظر یې ځکه بندي کړ چي د امیر له مر څخه یې سرغړونه کړې وه»
البته محمدصفرخان، له سردارنصرالله خان سره د نیژدې اړیکو لرلو له برکته، بیرته خوشي سو او یو څه وخت وروسته د بدخشان والي سو. په داسي حال کي چي د امیر عبدالرحمن خان په زمانه کي نه چا د هغه له امر څخه د دونه ښکاره سرغړوني زړه کولای سو او نه یې د سرغړوني په صورت کي د ژوندي پاته کېدلو تمه کولای سوه. کابل په هغو کلونو کي یو عجیب رنګ درلود. سړی چي هغه حالات لولي نو فکر کوي چي امیر به د خپل قدرت د ساتلو او د دښمنانو له وهلو پرته بل هیڅ کار نه درلود. هغه په خپل کور کي د خپل مقتدر ورور، چي د هیواد په مذهبي عناصرو کي یې ډېر زیات محبوبیت ترلاسه کړی وو، مخامخ وو. په بهر کي د حضرتانو او مُلایانو، چي پرته له غزا یې د بل هیڅ شي غم نه کاوه، له ستونزي سره لاس و ګرېوان وو. د بلي خوا کابل د قبایلو له ستونزي سره لاس و ګرېوان وو؛ او امیر حیران وو چي کومي ستونزي ته لومړی توجه وکړي. د انګرېزانو استازی د همدغه کال د سپتمبر د نهمي په رپوټ کي لیکي «کابل نن سبا د بېلو بېلو قبایلو له خلکو ډک دی. له هري خوا څخه خلک ورته را روان دي. په سرایونو کي د هغوی د اوسېدلو او شپي تېرولو لپاره ځای نسته.مهمند، افرېدي،سلیمان خېل، کاکاخېل، تیراهي، شینواري، کټوازیان، وزیر، لالپوریان، یوسفزي او نور ورته راغلي دي. دوی د خپلو سیاسي او شخصي کارونو ترڅنګ، د وسلو له قاچاقبرانو څخه، د وسلو په رانیولو لګیا دي. یوسفزي د توپکو پر ځای زیاتره د توپنچو رانیولو ته توجه کوي. موزر توپنچې، هر یوه په پنځه سوه کابلی یا ۲۸۶ کلداري پلورل کیږي.
سردار نصرالله خان، د غزا په برخه کي د امیر د اوامرو او هدایتونو په خلاف، له مجاهدینو سره مرستو ته دوام ورکړ او د انګرېزانو استازی د ډسمبر د دېرشمي په رپوټ کي وایی چي د اخندزاده سید اکبر په نوم یوه سړي ته یې وویل چي په کابل کي پاته سي او تر علاج کولو وروسته به د غزا لپاره حرکت وکړي. هغه ورته وویل چي د دوا او پیسو پر ځای ماته کارتوس راکړه؛ دا زما لپاره هر څه دي. نصرالله خان هغه ته پنځه سوه روپۍ او درې زره کارتوس ورکړل.
داسي ښکاري چي د انګرېزانو سره د غزا او جهاد په دې ګرمو او احساساتي حالاتو کي، روحاني مشر میرصاحب جان، چي په کابل کي په پاچاصاحب مشهور وو، او د انګرېزانو سره د غزا تر ټولو مهم او زورور طرفدار وو، تر ډېرو نورو پیرانو او مذهبي مشرانو د زیات نفوذ خاوند وو. سره له هغه چي امیر ټول هغه کسان په بندیخانو ننه ایستل چي د غزا تبلیغ یې کاوه، مګر د میرصاحب جان، چي د سردارنصرالله ډېر نیژدې ملګری وو، جواب یې نه درلود او لا یې تحفې هم ورکولې. د انګرېزانو استازی د آګسټ د پنځه لسمي په رپوټ کي لیکي«میرصاحب جان اوس هم په کابل کي دی. هغه تېرهفته، میرزامحمدحسین مستوفي مېلمه کړ او یو توپک، یو څه مرمی، یو آس او زین، څلور سوه روپۍ نغدي او ځلوېښت جریبه ځمکه او یوه قلا یې په تحفه کي ورکړه. په وروېسي ورځ سردارنصرالله خان مېلمه کړ او یو توپکو مهمات ، یو آس او زر روپۍ یې ورکړې. په بله ورځ سردار عنایت الله خان مېلمه کړ او ځیني شیان یې ورکړل چي تفصیل یې لا تر اوسه راته معلوم نه دی. اعلیحضرت یوازي یو ځل حضور ته منلی دی. دا ملاقات ډېر لنډ وو او امیر ټول هغه درناوی چي د یوه روحاني مشر سره ښایي ورته وښود. په ډېره مهرباني یې خبري ورسره وکړې او چي ولاړ نو زر روپۍ یې ور ولېږلې او ورته وې ویل چي دا د مهمانی په توګه ومنه، او د روانېدلو په وخت کي به تحفه ورکړي»
د انګرېز استازی لیکي چي هم واکمنه کورنۍ او هم حکومتي مامورین د میرصاحب جان ډېر درناوی کوي. دی لیکي چي د آګسټ پر اتمه د هغه کورته غل ور ولوېدی او د ده یو ساتونکی یې وویشتی او مړ یې کړ خو میرصاحب جان روغ رمټ خلاص سو؛ او قاتل نه دی نیول سوی. دی وایي په ښار کي داسي آوازه ده چي دا قاتل امیر پخپله ورلېږلی وو، ځکه چي امیر د میرصاحب جان له نفوذ او قدرت او د سردار نصرالله خان سره د هغه د نیژدې دوستی څخه بېرېږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

استازی د آګسټ د نهه ویشتمي په رپوټ کي لیکي چي میرصاحب جان د دې میاشتي پر څلېرویشتمه پل چرخي ته ولاړ او هلته یې د حبیب الله خان محمدزي، چي د اعتمادالدوله له خپلوانو څخه دی، لور خپل زوی ته واده کوله. د بتخاک حضرت صاحب یې هم واده ته ورغلی وو او د واده ټول لګښت یې محمدحسین خان مستوفي پر غاړه اخیستی وو. استازی لیکي چي محمدحسین خان دوه خرواره وریجي، اوزګړي، پسونه او غوړي هم ورکړل. سردار نصرالله خان جواهرات او نغدي پیسې ورکړې.

د انګرېزانو سره د جهاد په مسله کي د امیر او سردار نصرالله خان اختلافات ورځ تر بلي زیاتېدل. نه سردار د غزا د پیل کولو په برخه کي له خپلو پېشنهادونو څخه تېرېدی او نه امیر د هغه پېشنهادونه منل. د انګرېزانو استازی د ۱۹۰۸م کال د سپټمبر پر دیرویشتمه رپوټ کي لیکي« تقریبا یوه میاشت مخکي په حرم کي دننه د سردار او امیر ږغونه پورته سول. سردار د غزا خبره را پورته کړه او په ډېره آزادي یې خپل دلایل وړاندي کړل. امیر ډېر په غوسه سو او وې ویل چي که زه د عبدالرحمن زوی وم زه به د غزا د پیل کولو په برخه کي یوه دقیقه هم ضایع نه کړم. زه به پخپله د جنګ جبهې ته ولاړ سم.همدغه شېبه زما د خېمې مخ د پېښور خواته واړوی. مګر ماته لیکلې موافقتنامه راکړه او اطمینان راکړه چي ما ته به د غزا په وخت کي په لکونو سړي او حیوانان رالېږې. او که ته ناکامه سوې نو بیا زه بله لاره نه لرم اول به تا ولم او بیا به ځان وژنم او نور به نو مسلمانان پرېږدو چي څه کوي هغه دي وکړي. امیر خپل لاس پر توپنچه باندي کېښېښود؛ د حرم مېرمنو مداخله وکړه او سردار نصرالله خان په آرامه له خوني څخه ووت. مخکي له هغه چي سردار له خوني څخه ووزي، امیر ورپسي ږغ کړل چي ته د مسلمانانو ریښې کاږې. دا څو ورځي کېږي چي سردار نصرالله خان په اداري چارو کي چنداني برخه نه اخلي.  اعلیحضرت سردار عنایت الله خان ته امر کړی دی چي د هیواد ملکي چاري هم پرمخ بوزي. په سردارانو کي داسي آوازه ده چي سردار نصرالله خان اوس په عامه د امیر نافرماني کوي»

د انګرېزانو د استازي د سپټمبر د شپاړسمي له رپوټ څخه ښکاري چي سردار نصرالله نه یوازي د امیر له ځرګندو اوامرو څخه سرغړونه کوي بلکه د روحانیونو او مذهبي مشرانو په هغه غونډه کي چي ده او اعتمادالدوله عبدالقدوس خان را بللې وه د امیر پر ضد د مقاومت او له زوره اخیستلو خبري وکړې « سردارنصرالله خان وویل چي پاچا، د محمدي شریعت په اساس، دا حق نه لري چي د خپلو شخصي عقایدو په منظور له خلکو څخه د هغوی حقوق غصب کړي او له غزا څخه یې منع کړي او که دا کار وکړي نو د ده رعیت حق لري چي د قوې څخه کار واخلي»

د دوی دواړو تر منځ د اختلاف د حلولو او پخلا کولو لپاره یې بالاخره مور مداخله وکړه او د انګرېزانو استازی د ډسمبر پر دېرشمه په خپل رپوت کي لیکي«په تېره هفته کي یو ماښام د امیرمور وغوښتل چي امیر په حرم کي دننه وویني. سردار نصرالله خان هم حاضر وو، او ډېر زیات احتمال لري چي مور به یې مخکي ورته ویلي وه چي د امیر سره په خونه کي اوسي. د امیر مور قرآن شریف ورسره اخیستی وو او د هغه په روی یې له امیر حبیب الله څخه وغوښتل چي له خپل ورور سردارنصرالله خان سره وفادار او ملګری اوسي. دغه راز یې د همدغه قرآن شریف په روی له نصرالله خان څخه وغوښتل چي د خپل مشر ورور امر ته غاړه کېښېږدي او هغه ته وفادار و اوسي. دوی ډیري اوږدې خبري سره وکړې خو داسي ښکاري چي نصرالله خان د مجلس له نتیجې څخه چنداني راضي نه وو »

سردار نصرالله خان، د امیر له پالیسیو سره د مخالفت ښودلو او په روحانیونو او مذهبي عناصرو کي د نفود ترلاسه کولو لپاره، د برتانیې پر ضد داسي عملیاتو ته لاس واچاوه چي د افغانستان په څېر یوه کمزوري هیواد لپاره یې عملي کول او دوام غیر ممکن وو. د انګرېزانو استازی د ۱۹۰۸م کال د نومبر پر یوولسمه په خپل رپوټ کي لیکي « په کابل کي د هودخېلو یوه نهه کسیزه ډله ده. دوی اوړی په کابل کي تېروي او په ژمي کي د لغمان د چارباغ علاقې ته ځي. دوی، د نومبر پر اتمه ماښام، سردار نصرالله خان ته عرض بېګي ملامحمدخان ور معرفي کړل. سردار هغوی هر یوه ته شپېته روپۍ ورکړې او دغه راز یې دوه سوه روپۍ پېشکي ورکړې چي له سفر څخه د راستنېدلو وروسته به یې په حساب کي معامله سي. سردار هغوی ته، د خپلې سلیقې سره سم، هدایتونه ورکړل. د ده د هدایتونو مهم ټکي دا وه چي پرته له فرنګیانو به له هیچا سره غرض نه کوی. هغه سامانونه او مواد چي دوی یې ورسره اخلي باید چي د نوره کي سړیو ته یې، چي باید مخکی له مخکي یې د کتلو ترتیب ورسره نیولی وي، ورتسلیم کړي. دوی باید کوښښ وکړي چي خپل هویتونه او وسلې پټي وساتي. دوی باید د اسلام دښمنانو ته په تاوان رسولو کي خپل ټول وس تمام کړي. دوی باید دلته یو څه سامانونه واخلي او هند ته یې د خرڅلاو لپاره یوسي. په دې توګه به دوی وکړای سي چي د محترمواو معززو کسانو په څېر له سرحد څخه تېر سي. دوی په پای کي سردار ته وویل چي په پنځو یاشپېږو ورځو کي به هند ته حرکت وکړي.

په دې کسانو کي یو محراب الدین نومیږي. جګ، ځوان سړی دی. مخ یې یو څه چیچکي دی. ږیره خریې. بل یې عزیز خان نومیږي. جګ سړی دی؛ توره او سپینه لنډۍ ږیره لري. هغه بل یې شېرخان نومیږي. ګردی غنم رنګه سړی دی. وړې سترګي یې دي او پر باړخو باندي ټپ لري. یو بل تن یې ملاشیرین نومیږي. جګ غټ سړی دی او توره ږیره لري. د پنځم نوم مي نه دی زده. خو ګردی چاغ سړی دی. پر تندي باندي ټپ لري، چي ښایي د توري یا د ډبري له امله وي »


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کله چي د ورانکاري ډلي د غړو نومونه او قیافي د انګرېزانو استازي ته معلومي وي او د هغوی له حرکت څخه مخکي یې خپل حکومت ته رپوټ ورکړی وي نو د دې ورانکارو له عملیاتو څخه به پرته له رسوایي بل څه جوړ سوي وي؟
د انګرېزانو د استازي د اکتوبر د څوارلسمي په رپوټ کي راغلي دي چي سردار نصرالله خان، تر دې دمخه، د میراحمدشاه په نوم یو سړی، چي په اغو مشهور دی، هند ته لېږلی او هغه ته یې وظیفه ورکړې وه چي د برتانیې د حکومت په باب اطلاعات ورته راغونډ کړي. میراحمدشاه په ظاهره د دارو درملو سوداګر وو، مګر اصلي وظیفه یې جاسوسي وه. میراحمدشاه یا اغو د امیر عبدالرحمن خان په زمانه کي هم هند ته د جاسوسی لپاره لېږل سوی وو او هلته په کلکته کي د کاکا غلام محی الدین په نوم یوه سړي پر ځای باندي اوسېدی.

**د امیر خپلوان او کورنی:**
امیر عبدالرحمن خان، که هر څونه ظالم سړی وو؛ او که یې خپلي کورنی ته هر څومره زیات مالي امتیازات بخښلي وه، خپل اولادونه او د کورنی غړي یې ټول په مرکز کي ساتلي ول او د مهمو ولایتونو اداره یې خپلو تر ټولو باوري کسانو او غلام بچه ګانو ته سپارلي وه. هغه هم په دې توګه خپل اولادونه تر سترګو لاندي ساتلي ول او هم یې، د تېرو وختونو په خلاف، په خپله کورنی کي دننه د قدرت د نیولو پر سر د احتمالي دسیسو مخه نیولي وه. امیر حبیب الله خان، لړترلړه خپل یو زوی، سردارحیات الله خان په بدخشان کي والي مقرر کړی وو او د هغه د خپل سریو او تېریو په باره کي چي یې هر څه رپوټونه اورېدل غوږونه یې ورباندي کاڼه کړي وه. د انګرېزانو استازی د ۱۹۰۸م کال د جولای د میاشتي د لومړی نېټي په رپوټ کي لیکي« د اعلیحضرت زوی سردار حیات الله، چي د بدخشان والي دی، په تېریو کي افراط کوي. د روستاق حاکم یې پر سر په لرګي وواهه او د کوپړۍ هډوکی یې ور مات کړ.
د برخېل د قبیلي یو سړی دی چي په فیض آباد کي په تبعید کي ژوند کوي. سردار خبرسو چي هغه یوه ښایسته لور لري. له هغه سړي څخه یې وغوښتل چي په خپل کور کي یې مېلمه کړي. سړی یې په نیت پوه سو؛ مګر څه یې نه سو ویلای او سردار یې په کور کي مېلمه کړ. هغه په عین وخت کي خپله لور خبره کړه او هغې ته یې ډکه توپنچه ورکړه او ورته وې ویل چي که دې زاریو ګټه ونه کړه نو د خپل عزت څخه د دفاع لپاره له توپنچي څخه کار واخله. وخت را ورسېدی او نجلی ته له توپنچي څخه د کار اخیستلو پرته بله لار پاته نه سوه. کله چي یې پرسردار باندي ډز وکړ هغه یې خطا کړ او سردار ځان په تېښته خلاص کړ.
سردار حیات الله خان د یوه مهم او زورور سړي سمندرخان یوې مېرمني ته سړی واستاوه. سمندرخان په بله ورځ خپله ښځه طلاقه کړه او اعلیحضرت ته یې یو لیکلی شکایت واستاوه او د حیات الله خان د شرموونکو کارونو په باب یې ورته ولیکل. د سمندرخان اخښی، چي د همدغي طلاقي سوي ښځي ورور دی، هغه ښځه کابل ته راوسته او امیر ته یې مخامخ خپل شکایت واوراوه. امیر، حیات الله خان کابل ته وباله»
البته له وروسته رپوټونو څخه معلومیږي چي حیات الله خان کابل ته نه دی راغلی او بیا هم د بدخشان والي دی. ځکه چي استازی د نومبر پر اته لسمه په خپل رپوټ کي وایي چي سردار عبدالله خان یو ځل بیا یو اوږد رپوټ لیکلی دی او امیر ته یې د هغو تېریو یادونه کړې ده چي د بدخشان خلک د والي حیات الله خان له لاسه ورڅخه کړیږی.
استازی د ډ سمبر پر دېرشمه لیکي چي د بدخشان والي سردار حیات الله خان، چي انتظار ایستل کېدی کابل ته راسي، تر اوسه نه دی راغلی. دی ځکه کابل ته راتلل نه غواړي چي د برطرفی څخه ببره لري. امیر ته په دې وروستیو شپو ورځو کي اطلاع ورسېده چي حیات الله خان خپل سړي روسیې ته لېږلي او هغوی ته یې ویلي چي یوه ښکلي روسی نجلی، په هره بیه چي کیږي، ورته راولي.
امیر حبیب الله خپل میرېزي ورور سردارمحمدعمرجان، چي دا وخت نونس کلن وو، او د هغه مور بي بي حلیمي (ببوجان) ته له کابل څخه د وتلو اجازه نه ورکوله. سردارمحمدعمرجان، چي له درباره بهر یې چنداني نوم او نښان نه معلومېدی، کله کله، د خپل موقف څخه په استفادې سره، ډېر غیرقانوني کارونه کول؛ البته امیر هغه ته سزا نه سوه ورکولای. د انګرېزانو استازی د جون پر څلېرویشتمه په خپل رپوټ کي لیکي« د ده افغانان یو اوسېدونکی امیر ته راوستل سو چي جعلي سکي یې جوړولي. کله چي له تورن سړي څخه تحقیق وسو نو هغه وویل چي دا کار د سردارمحمدعمرجان په هدایت کوي. اعلیحضرت په دې موضوع کي نور اجرآت ونه کړل خو تورن سړی یې تر ډېرلو وروسته خوشي کړ. دغه راز د مي په میاشت کي یو هندو له هغو قیمتي ډېرو سره ونیول سو چي د جګدلک له کان څخه را ایستل سوي وي. هندو وویل چي هغه فقط یو دلال دی او دا ډبري د سردارمحمدعمرجان په میرزا، محمدایوب پوري اړه لري. د میرزا ایوب کور تلاښی سو او څو داني یاقوت پکښي پیدا سول. میراز او د جګدلک اته لس تنه اوسېدونکي چي ګومان کېږي له ده سره په دغه کار کي لاس لري، کوټه قلفي سول. پر کان باندي محافظین تبدیل سول» طبیعي خبره ده چي امیر بیا هم اجرآت ونه سوه کړای؛ ځکه چي د محمدعمرجان مور ببوجان عادي ښځه نه وه؛ او امیر مجبور وو چي د هغې خیال وساتي.
امیر حبیب الله، د یوه مستبد پاچا په حیث، د هیواد د ټولي خزانې اختیار درلود او دا یې په ډېره غیرمنصفانه توګه لګوله. په داسي حال کي چي د ډېرو لږو مامورینو میاشتنی تنخوا سلو روپیو ته رسېدله؛ د انګرېزانو د استازي د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

۱۹۰۸م کال د آگسټ د میاشتي د نهه ویشتمي رپوټ وایي چي امیر د خپل زوی سردار عنایت الله خان میاشتنی تنخوا له څلور زره روپیو څخه لسو زرو ته لوړه کړه او د هغه ټول پوروونه یې پر غاړه واخیستل.
د ۱۹۰۸م کال په پای کي د افغانستان ټول کلنی عاید څلوېښت میلیونه روپۍ وو. که د سردار عنایت الله خان یوازي تنخوا، له ټولو امتیازاتو پرته، د کاله یو لک شل زره روپۍ وي نو ګواکي یوازي د یوه شهزاده تنخوا د هیواد د ټول کلني عاید څه باندي یوپرڅلور فیصده کیږي. داچي د امیر ګڼ شمېر مېرمنو، چي حساب یې یوازي ده ته معلوم وو، هره میاشت په زرګونو روپۍ تنخواوي ترلاسه کولې او د ټولو لباسونه، د امیر له عصري سلیقې سره سم، له اروپا څخه واردېدل؛ دا لګښتونه، د امیر د نورو ډېرو بې عدالتیو ترڅنګ، یوه لویه بې انصافي وه.
د انګرېزانو استازی د اپرېل د نهه ویشتمي په رپوټ کي لیکي چي د اورګون ځینو عسکرو ته د تیرو شپږو میاشتو تنخواوي نه وې ورکړه سوي او هغوی خپل مسوول منصبدار ته شکایت وکړ او ورته وې ویل چي که شفتل رسېدلي وای دوی به ګوزاره په کړې وای مګر اوس له لوږي مړه کیږي. که دوی ته تنخواوي ونه رسیږي نو دوی مجبور دي چي عسکري پریږدي او ګدایي وکړي. استازی وایي چي منصبدار یې هغوی ته په تونده لهجه وویل چي تنخواوي یې نه دي را رسېدلي. په هغه شپه تقریبا دېرش تنه عسکر وتښتېدل او وسلې یې پرېښودلې. د یوه ملک عسکر دي د میاشتي پنځوس شپېته روپۍ ترلاسه نه کړای سي. شپږ میاشتي دي بې تنخوا ګوزاره وکړي او شهزاده دي د میاشتي لس زره تنخوا واخلي.
د انګرېزانو استازی د آګسټ پر نونسمه رپوټ ورکوي چي د دې میاشتي پر یوولسمه څوارلس تنه غله د غلا په وخت کي ونیول سول. وروسته معلومه سوه چي څلور تنه یې د اردلي کنډک سپاهیان، درې تنه یې د کوتوالی عسکر، درې تنه یې د امیرحبیب الله خان فراشان، درې تنه د سردارنصرالله خان فراشان او یو تن د علیاحضرتي ملکې کهاروو.
سړی نه پوهیږي چي دې عسکرو او پولیسو به، چي په هغو کي د امیر او سردار فراشان هم شامل دي، ولي غلا ته مخه کړې وي. که دوی ته هم د اورګون د عسکرو په څېر تنخواوي نه وي رسېدلي او هغوی د لوږي او تنګدستی له امله غلاوو ته مخه کړې وي نو بیا خو د امیر حبیب الله او د هغه د حکومت لپاره، پسله مرګه، د پېغور خبره ده.
عدالت او امنیت:
په مطلقه سلطنت کي عدالت او قانونیت خپل مفهوم ځکه له لاسه ورکوي چي پاچاهان هغه څه ته عدالت وایي چي دوی یې عدالت بولي. پاچاهان هغه څه کوي چي دوی یې ښه بولي، نه هغه څه چي اولسونه یا کتابونه ښه ورته وایي.
د انګرېزانو استازی د ۱۹۰۸م کال د جنوري د نهه ویشتمي د رپوټ په ترڅ کي لیکي « یو سړی دی چي غلام حسین نومیږي او په شوربازار کي ژوندی کوي.ده د محمدحسین او نور حسین په نوم دوه زامن درلودل. دوه کاله مخکي کوتوال، محمدحسین، د برتانیې د نماینده ګی له یوه سړي سره د خبرو په تور، په خفیه توګه، وواژه. نور حسین هم تېره هفته، د خپل بدمرغه ورور په څېر، ووژل سو. غلام حسین د خپلو دوو زامنو د قتلېدلو یا ورکېدلو په باب سردار عنایت الله خان ته عریضه وکړه او هغه هم عریضه د امیر حضور ته وړاندي کړه. امیر وویل چي هیڅوک باید په ګومان ونه وژل سي. که د چا په برخه کي کره شواهد پیدا سي هغه باید چي ووژل سي. کوتوال وویل چي هغه ته هره ورځ رپوټونه رسیږي چي د برتانیې د نمایندګی سړي په بازار کي له خلکو سره خبري کوي. سردار عنایت الله خان وویل چي د برتانیې استازی هر وخت په سیل او چکر وزي او له خلکو سره ګوري ځکه یې نو ملګري او شناخته پیدا کړي دي.
سردار عنایت الله له کوتوال څخه پوښتنه وکړه چي غلام حسین څرنګه په دې خبر سو چي زامن یې کوتوالی له منځه وړي دي. کوتوال تحقیقات وکړل او دا یې معلومه کړه چي دا معلومات د کوتوالی یوه عسکر فاش کړي دي. عسکر په جزایي توګه قلات ته تبدیل سو او امیر کوتوال ته امر وکړ چي دا قضیه خاموشه کړي.
زه شخصا نه غلام حسین او نه د هغه زامن پېژنم او دا ویلای سم چي د برتانیې د نمایندګی هیڅ سړي د هغه له زامنو سره تماس نه دی نیولی. غلام حسین ښایی د کوم شته من سړي سره دښمني درلودلې او هغه د کوتوالی په وسیله تباهي وربانديي راوستلې وي»
د انګرېزانو استازی د مې د شپږمي په رپوت کي لیکي«یو هندو مامور چي د دوولسو کالو راهیسي یې په ګمرک کي د میاشتي په شل روپۍ تنخوا کار کاوه د ډېرو زیاتو پیسو په اختلاس تورن سو. د تحقیقاتو په نتیجه کي معلومه سوه چي هغه اووه سوه روپۍ اختلاس کړي دي. امیر ته د قضیې په باره کي رپوټ ورکړه سو. امیر وویل چي هندو دي په توپ کي والوزول سي. د امیر د حکم له اعلانېدلو سره سم، هندو کلمه وویله او مسلمان سو. امیر خپل امر بیرته وګرځاوه. البته هندو له کاره برطرف سو او امیر د میاشتي لس روپۍ تنخوا ورته مقرره کړه چي خپله ورځنۍ ګوزاره په وکړي»
که څه هم چي زه یقین لرم، د امیر حبیب الله خان په سلطنت کي به تر دې ناشدي پیښي سوي وي خو دا دوې قضیې د هغه د ټول عدالت د معرفي کولوښه مثالونه کېدلای سي. دوه ځوانان د برتانیې د نمایندګی له یوه مامور سره د خبرو کولو په تور، چي ثبوت یې هم موجود نه دی، وژل کیږي؛ او امیر د دې پرځای چي د قضیې بازخواست وکړي، کوتوال ته وایی چي دا قضیه خاموشه کړي. طبیعي خبره ده چي د ځوانانو د پلار لپاره د عدالت غوښتلو بله


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

لوړه مرجع نسته او باید چي فقط خدای ته صبر وکړي. دې ته ورته قضيې د امير عبدالرحمن خان په زمانه کي ډېري زياتي پېښېدلي او د امیر حبیب الله خان په زمانه کي يې هم مثالونه کم نه ول. پر يوه غريب او بېکسه هندو باندي، چي د مياشتي په شل روپۍ تنخوا نوکر دی، د اووسوو! روپيو د اختلاس په ګناه په توپ کي د الوزولو حکم کيږي او هغه له مجبوريته له خپل مذهب څخه تيريږي. مګر له مستوفي محمدحسين خان څخه، چي د امير او د هغه د پلار د ټولو جنايتونو اسرار ورسره خوندي دي، هيڅوک دا پوښتنه نه کوي چي دا دومره جايدادونه او پيسې يې له کومه کړې چي ميرصاحب جان ته، په يوه ځل، ځلوېښت جريبه مځکه، قلا، آس او نغدي پيسې، د مېلمستيا په توګه ورکوي.
د انګرېزانو استازی د ۱۹۰۸م کال د اپرېل د پنځه لسمي په رپوټ کي ليکي « امير، د اپرېل پر دريمه وليده چي د کوتوالی څنګ ته سرک چټل دی. نايب کوتوال يې را وباله؛ پر هغه ځای يې په شلاقو وواهه او څلور سوه روپۍ يې جريمه کړ. څلورو عسکرو ته يې وظيفه ورکړه چي د سبا ورځي تر لسو بجو مځکي پيسي ورڅخه حصول کړي.
په همدغه ورځ امير وليدل چي د مراد خانی سره نيژدې يو سړک ناپاکه او چټل دی. کلانتر يې را وباله. د هغه په اوږده ږيره پوري يې تار غوټه کړ او تار يې په دېوال کي په يوه مېخ طويله پوري وتاړه. په دې توګه به سړي سر په هوا نيولی وو. پوازي د لمانځه او ډوډۍ خوړلو په وخت کي، د لنډ وخت لپاره، خوشي کېدی او د شپې به د ارګ په بنديخانه کي ناست وو. درې ورځي پرله پسې يې دا سزا وليده.
يوه بد فعله ښځه يې سردارنصرالله خان ته بوتله. هغه خپلي معمولي شکنجي ورکړې او له ښځي څخه يې په زور اقرار واخيست. هغې په جُرم کي د خپلو نارينه او ښځينه شريکانو نومونه ياد کړل. په هغه شپه څلور نارينه او شپږ ښځي له کورونو څخه وايستل سوې او بيا يې درک معلوم نه سو» دا هم د دواړو ورونو د چټک او ظالمانه عدالت او قضاوت نمونې دي.
د انګرېزانو استازی د مي د مياشتي د دېرشمي په رپوټ کي ليکي « شکرخان کوهستانی، چي يو مشهور غل دی او هر وخت په پېښور او د را ولپنډي په علاقه کي غلاوي کوي، امير ته کله کله تحفې ليږي. هغه په دې وروستيو شپو ورځو کي امير ته دوه سوه طلاوي او يو قيمتي ساعت په سوغات کي ورکړ او امير هم د ده تحفه ومنله. ويل کېږي چي شکرخان په جنګونو کي برخه اخلي او له غازيانو سره مرستي کوي... شکرخان د لغمان له دوولسو کسانو سره، په جنګونو کي د برخي اخيستلو لپاره، سرحد ته تللی دی. هغه تر اوسه نه دی راستون سوی او د هغو نورو دوولسو سړيو درک هم نه دی معلوم »
د انګرېزانو استازی د ډسمبر د دېرشمي په يوه رپوټ کي ليکي « يو هودخېل چي بارو نوميږي څو ورځي مخکي له کابل څخه هند ته روان سو. دی ډېر مشهور غل دی؛ تل يوه بېلچه له ځان سره ګرځوی او خلکو ته وايي چي خپله يوه ګوله ډوډۍ په حلاله مزدوري پيدا کوي. مګر چي هر وخت موقع ورته برابره سي نو تر غلا نه تېرېږي. دوه کاله مخکي يې له هند څخه نهه توپک راوړل او امير حبيب الله ته يې ورکړل. دی څو ځله په هند کي محکوم سوی او بنديخانې ته لېږل سوی دی. له ده سره ځيني کسان تللي دي مګر دی هر وخت غواړي چي غلا په پوازي سر وکړي... توره او سپينه ږيره لري، جګ قوي سړی دی او سپين پوستی غونډي دی، پيته هزاره ډوله پزه يې ده » کله چي امير له غلو څخه تحفې قبولي کړي نو سړی به څرنګه د امنيت تمه کوي؟
د عدالت قايمول او سم قضاوت کول د امير او سردار نصرالله خان په نيت او ارادې او د مقصر يا مدعی عليه په اجتماعي دريځ پوري اړه درلوده. سردار نصرالله خان څلور ښځي او شپږ نارينه په يوه شپه وژلای سي او هيڅوک له هغه څخه بازخواست نه کوي. مګر د امير زوی سردارحيات الله خان، چي د بدخشان نايب الحکومه دی، د خلکو د ټولو شکايتونو سره سره پر خپل ځای باندي ناست دی او حتی امير د خلکو پر ناموس باندي د ښکاره تېري په باره کي پوښتنه نه ورڅخه کوي.
د انګرېزانو استازی د اکتوبر د اوومي په رپوټ کي د هرات د والي محمدسرورخان څخه د خلکو د شکايت په باب ليکي « د هرات ټولو ملکي او پوځي مامورينو، د څو محدودو کسانو څخه پرته، اعليحضرت ته يوه عريضه ليکلي او هغه يې د نايب الحکومه سردار محمدسرورخان له ظلمونو څخه خبر کړی دی او د هغو کسانو يو اوږد ليست يې ورکړی دی چي د سردار محمدسرورخان د ظلمونو او تېريو له لاسه مشهد او روسيې ته کوچېدلي دي » د انګرېزانو استازی د هرات د خلکو د شکايت په مقابل کي د امير د عکس العمل په باب څه نه وايي؛ او د ويلو څه خو ځکه نه لري چي امير محمدسرورخان ته هيڅ نه دي ويلي بلکه د خپلي پاچهی په دوران کي يې څو څو ځله ترفيعات ورکړل او له ده څخه وروسته د اعليحضرت محمدظاهرشاه تر زماني پوري هر وخت نازولی وو. دا چي د عريضي ليکونکي او لاسليک کونکو ته به څه ورپېښه سوې وي، سړی د امير له عدالت او قضاوت او، له خلکو سره، د سردارمحمدسرورخان له خپل سري او ظالمانه سلوک څخه ښه قضاوت او اټکل کولای سي.
يو په زړه پوري رپوټ، چي د خلکو او عالي رتبه مامورينو د شخصي ژوند په چارو کي د امير مداخله ښيي، په لوستلو ارزي. د انګرېزانو استازی د جون د دريمي په رپوټ کي ليکي« د چرخ والي، محمدجعفرخان په دې تازه شپو ورځو کي د کافرستان څخه راغلي مسلماني سوې نجلی سره واده کړی دی. امير دې مسلې سخت په غوسه کړی دی ځکه چي ده امر کړی دی چي، له ده او د کافرستان له اوسېدونکوڅخه پرته، هيڅوک نه سي کولای چي د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

کافرستان له نجونو سره ودونه وکړي. شلو سپرو ته يې وظيفه ورکړې ده چي محمدجعفر خان، کابل ته، بندي راولي. امير هغه ته د سختي سزا ورکول په نيت کي لري»

دې بې انصافی ته به سړی څه نوم ورکړي چي امير د نورستان له ښځو سره واده کول يوازي خپل حق بولي. رشوت، اختلاس او پر خلکو باندي د حکومتي مامورينو تېری د امير حبيب الله د پاچهی يوه عامه ستونزه وه. د کندهارنيوز ليټرز په نوم کتاب د لسم ټوک په ۳۶م مخ کي د انګرېزانو د خبر ليکونکي د ۱۹۰۳م کال د جولای د اتمي په رپوټ کي د کندهار د کوتوال پر ټولو ظلمونو او تېريو باندي د امير د سترګو پټولو او د کوتوال د ظالمانه سلوک په باره کي راغلي دي چي کوتوال له خلکو څخه په زور پيسې اخلي، رشوتونه اخلي او دومره اخلاقي فساد کوي چي ټولي کيسې يې په يوه رپوټ کي نه ځايېږي. کوتوال يو تاجيک هلک، چي د ده ناروا غوښتني ته نه تسليمېدی، بندي کړی دی. په رپوټ کي راغلي دي چي دلته ټول افسران لړ او ډېر په اخلاقي فساد اخته دي خو کوتوال په اخلاقي فساد دونه مشهور دی چي خلک يې له نامه څخه بېرېږي. کوتوال هغه ځواني نجوني او هلکان، چي د ده ناروا غوښتنو ته په خپله خوښه تسليم نه سي په زور وړي.

خبرليکونکی، د جولای پر پنځمه، په خپل ياداشت کي ليکي چي تېره شپه زما له کور سره نيژدې د عبدالحق تحصيلدار کور غلو وواهه. دی وايي دا حمله دومره په سپين سترګي وسوه چي اندازه نه لري. د شپې پر پنځه لس کم دوې بجې د مرميوباران جوړ سو، او غلو خپل کار وکړ. داسي اټکل کېږي چي اووه زره روپۍ به يې وړي وي. پهره دارانو، چي ډېر نيژدې ولاړ ول، د غلو سره هيڅ مقاومت ونه کړ. داسي ويل کيږي چي دا غله د کوتوال سړي ول.

خبرليکونکی په همدغه پاڼه کي ليکي چي د پشت رود دوه تنه زمينداران، په سپينه ورځ، د کندهار په دوه ميلي کي، غلو وشکول. ويل کيږي چي نن سبا دا ټول جنايتونه د پوليسو کار دی او هغوی ته هيڅوک څه ويلای نه سي.

خبرليکونکی وايي چي د جولای پر لومړۍ نېټه د ميوند په کوتل کي محمدزيو داړه مارانو پر يوه کاروان باندي حمله وکړه. شپږ تنه يې وژلي او شپاړس اوښان او يو شمېرپابوګان يې ورسره وړي دي.

خبرليکونکی، په همدغه کتاب کي، د ۱۹۰۳م کال د نومبر پر شپږمه ليکي چي د ميوند څخه راغلي رپوټونه وايي چي پنځوسو الکوزيو، چي ټولو سره توپکونه ورسره دي، د ميوند دره نيولې ده او يو شمېر کاروانونه يې لوټلي دي. د دې ټولو بې امنيتيو يو مهم علت بيا هم پراخ اداري فساد دی. موږ وليدل چي امير پخپله له غلو څخه تحفې اخلي؛ د کندهار کوتوال له غلو سره جوړ دی. د انګرېزانو خبرليکونکی د مارچ پر ديارلسمه، د نورو رپوټونو په ترڅ کي ليکي چي د زنګاباد مشهور غل، رحمن چي په رستم مشهور دی، سردار او ډګروال ته ډېر قېمتي سوغاتونه راوړي دي او هغوی يې هم ښه قدر وکړ.

د رشوت په برخه کي تر ټولو په زړه پوري کيسه په هغه رپوټ کي راغلې ده چي خبرليکونکي د ۱۹۰۴م کال د جون پر شپاړسمه ليکلی دی او وايي چي نايب الحکومه ته له کابل څخه يو فرمان رسېدلی او په هغه کي يې ورڅخه غوښتي دي چي قاضۍ ته ووايي چي نور نو له پاچا څخه ستا رشوت خوري او خيانت پټ نه دی. خو پاچا تر هغه وخته پوري تاته انتظار باسي چي ته له حکومتي خزانې څخه ښې ډېري پيسې ذخيره کړې.

يعني پرېږده چي قاضي خلکو ته ښه تکليفونه ورکړي، ښه رشوتونه وخوري، جېبونه ډک کړي نو بيا به يې پر يوه ځای ورڅخه واخلي. دا نو نه ده معلومه چي امير به تر کله قاضي ته صبر کوي او د امير په اټکل ډېري پيسې څه ته ويل کيږي. خو خلک مجبور دي چي د امير د حوصلې تر تنګېدلو پوري د قاضي ظلمونه او ناروا وزغمي.

لکه څرنګه چي امير او سردارنصرالله خان د خپلي خوښي سره سم عدالت چلاوه او قانون يوازي د دوی د ارادې ترجماني وه. د هغوی عالي رتبه مقامانو هم د خپلي خوښي سره سم قانون چلاوه. د مثال په توګه د کندهار نيوزليټرز د لسم ټوک په ۱۶۶ مخ کي راغلي دي چي نايب الحکومه د دوو تنو راسته لاسونه، د انګورو د غلا! په ګناه ورڅخه قطع کړل. او په دغه وخت کي چي د غلو لاسونه غوڅېدل د هغه هندو جېب ووهل سو چي د عملياتو تماشه يې کوله. کوتوال ټول خلک تلاښي کړل مګر غل يې ونه نيوی.

د همدغه کتاب په ۱۴۵ مخ کي، د همدغه نايب الحکومه په وخت کي د خبرليکونکي په يوه رپوټ کي راغلي دي چي د محمديعقوب خان اڅکزي له سړيو څخه د غلام رسول په نوم يو تن، د ګوشخانې د اوسېدونکي محمدامين خان تاجر له کورڅخه، د شپېتو زرو روپيو د غلا کولو په تور ونيول سو. محمد يعقوب پيسې تحويل کړې او سړی يې راخوشي کړ.

څرګنده خبره ده چي د انګورو په غلا دوو تنو نيول سويو غريبانو به د خوشي کولو لپاره څوک نه درلودل او د شپېتو زرو روپيو، چي په هغه وخت کي د يوه بشپړ جايداد بيه وه، غل په پيسو خوشي کيږي او نوره هيڅ سزا نه ويني.

ماءخذونه


1: Nevill, Captain. H. L Campaigns on the North West Frontier. 1977 Pakistan.

2: Diary of the British Agent at Kabul. From the 1st January 1908 to the 30th December 1908.

3: Kandahar Newsletters, tenth volume. For the Year 1903-1904-1905 Directorate of Archives Department. Government of Balochistan Quetta Pakistan.





افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ